# د ا.د.ج. دری رنگه بیرغ د اسلام د مقدس دین او هیواد له تاریخ او فرهنگ سره زموږ د انقلابی مینی او صداقت څرگندوی دی



د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د ملی او دولتی دری رنگه بیرغ د پورته کولو له امله د افغانستان د خلکو د دموکراتیک گوند د مرکزی کمیټی د عمومی منشی د ا.د.ج. د انقلابی شورا رئیس او صدراعظم ببرک کارمل د وینا متن. ۱۳۵۹/۳/۱

بسم الله الرحمن الرحیم

ملگرو، دوستانو او د افغانستان آزادو او قهرمانو خلکو! بیرغ او نښان د بشریت د تاریخ په بهیر کی د ټولنو، جرگو او د خلکو د بیلو بیلو ډلو، چی قبیلی، قومونه او ملتونه، طبقی او قشرونه، گوندونه او ټولنیز سازمانونه یکی دی، د هویت د تشخیص د نښو نښانو او سمبولونو په نامه، د خپلو لوړو ارمانونو د تأمین په برخه کی د خلکو د یووالی، آزادی، خپلواکی او حاکمیت، عادلانه مبارزو او انقلابی غورځنگونو او خپلواکی غوښتونکو نهضتونو د مخکښو سمبولونو په نامه پرته له دی چی د ستمگرانو او مرتجعینو، اشغالگرانو، استعمارگرانو، فاشیستانو، امپریالیستانو او د نړی د نورو ارتجاعی قوتونو بیرغونه په پام کی و نیسو، ټل شنه زموږ د هیواد لرغونی تاریخ چی د هغه د زړورو بچیانو له مبارزو زړورتوب، سربښندنو او قهرمانیو ځخه ډک دی.
د نړی د نورو ټولو ملتونو او خلکو په شان لوړ بیرغونه او ویاړلی نښانونه درلودلی دی، زموږ د خلکو په فولکلوریکو او کلتوری گنجینو او له شتمنی ډکو ادبیاتو او ژبو کی د بیرق، بیرغ، درفش، پرچم، رایت، علم، لوا، جنده، توغ او نورو کلمو ټل لوړ مقدس او سرلوړی ځایونه درلودلی دی او زموږ د لرغونی هیواد د ملی تاریخ په ټولو له لوړو او زورو ډکو دورانونو کی زموږ د زیارایستونکو خلکو آزادو او قهرمانو خلکو د شریفو او انسانی ارمانونو هدفونو او خپلواکی غوښتونکو مبارزو څرگندوی دی.
د لمر د سترگی پ نښان سره د طاوس د بیلگی بیرغونه، زموږ د نیکونو د خاوری په ځلور، پنځه زره کلنو تاریخی افسانو او پحوانیو ادبیاتو او کلتور کی ځلانده انعکاس لری.
د نومیالی بلخ بیرغونه چی د هغه په لوړو برجونه رپانده وو د بخدی او بخدیانو سترتوب ښکارندوی دی د کاوه آهنگر د څرمنی بند چی د کاویانی بیرغ په نامه نړیوال شهرت لری د سفاکو ضحاکانو د بی عدالتیو او ظلمونو پرخلاف زموږ د لرغونی هیواد د خلکو د زړور پاڅون او د مریانو، کسبگرو او بزگرانو د طبقاتی عادلانه مبارزو لکه د سپارتاکوس د پاڅون په شان د نړی د عادلانه مبارزو په تاریخ کی ثبت دی.

د تاریخ په اوږدو کی څو ځله ثابته شوی چی د کارګرانو، بزګرانو، کسبګرو، شریفو او حپلواکی غوښتونکو روحانیونو، غازیانو او هیواد پالونکو په ګډون زموږ د خاوری په ملیونونو قهرمانو انسانانو د خپلی خپلواکی او آزادی د دښمنانو په مقابل کی چی انقلابی توغونه یی په لاس کی ؤ په سربښندنی او فداکاری سره مبارزه کړیده، خپل سرونه یی قربان کړی او د شهادت جامونه یی څښلی دی زموږ په لرغونی خاوره کی د اسارت او مرئیتوب له قید څخه د ژغورنی لپاره د مبارزی تر بیرغ لاندی په لس ګونو پرګنیز او بزګری غورځنګونه منځ ته راغلی دی. د بزګری له دغو غورځنګونو څخه یوه ځلانده نمونه د روښانیانو په نامه د بزګرانو غورځنګ دی چی د یوه سړی پیاوړی شاعر او پاک نیته صوفی او افغان زړور مسلمان پیر روښان په مشری ترسره شو.
د بیرغ تور سور او زرغون دری رنګونه چی تر همدی څه موده مخکی پوری په افغانستان کی یی رواج درلود او اوس د تاریخ او ملی دودونو په پام کی نیولو سره او له اوسنیو مشخصو شرایطو سره سم او د ټولنیزو بدلونونو د ترسره کولو لپاره د هیواد په نوی تاریخی پړاو یعنی د ثور د بریالی انقلاب په دویم پړاو کی پورته کیږی، زموږ په ټولنه کی ژوری تاریخی جوړی لری او زموږ د خلکو د مبارزی له لوړو ژورو څخه ډکو پړاونو سره نه شلیدونکی اړیکی لری.
تور رنګ، د ابومسلم خراسانی د پخوانی خراسان یعنی د اوسنی افغانستان د میړنی زیړوونکی د خاوری د آزادی غوښتونکو مسلمانانو ددغه له مینی ډک وطنپال او زړور لاربښود د قهرمانانه غورځنګ د بیرغ رنګ دی.
دغه راز دغه بیرغ د خراسان د جنګیالیو عیارانو بیرغ ؤ چی د هغوی د قهرمانانه مبارزوپه بهیر کی رپول کیده.
د بیرغ تور رنګ د عباسیانو په دوران کی د خراسانی خاوری د مسلمانو هسکیرلو د آزادی غوښتونکی مبارزی انعکاس ورکوونکی ؤ چی له دوهمی هجری پیړی وروسته یی نژدی دوه پیړی یی زموژ په هیواد کی طوفانی غرش درلود.
په څلورمه او پنځمه هجری پیړی کی د غزنویانو د تمدن د سترتوب په دوران کی د غزنویانو د دولت د بیرغ رنګ سور ؤ، چی تر دغه بیرغ لاندی له دی جمله څخه د اسلام مبین دین په اوسنی پاکستان کی خپور شو. سور رنګ زموږ د ویاړلی هیواد د وطنپالو او غیرتمنو غازیانو د خونړیو پاڅونونو څرګندوی، د آزادی او استقلال د لاری د شهیدانو په تیره د انګلیس د استعمارګرانو پرخلاف د هغوی د عادلانه مبارزو رنګ دی زموږ د جنګیالیو قهرمانانو او غازیانو په منځ کی د زمرو په څیر د زړورو ښځو لکه ملالیو چی د آزادی غوښتونکو مبارزو سور بیرغ یی تر پایه پوری په خپلو وینو لړلو لاسونو کی لوړ وساته او د میوند په ډګر کی یی انګلیسی اشغالګرو ته بیخی مرګونی ماته ورکړه.
د امپریالیستی انګلیسانو پرخلاف د قهرمانو او مسلمانو افغانانو د دریو نومیالیو عادلانه جګړو په تاریخ کی ثبت دی سر بیره پردی په دوهمه هجری پیړی کی د سرو جامو خاوندانو چی د هغه وخت د استبداد په خلاف یی د مسلمانانو مشهورو غورځنګونو ته سازمان ورکړ سور بیرغ درلود.
زرغون رنګ په انګلیسی استعمارګر لاس وهونکو او تیری کوونکو باندی زموږ د خلکو د بری ښکارندوی دی.
دغه رنګ زموږ د هیواد په تاریخ کی له دی هم لرغونی ریښی لری ځکه زموږ د لرغونی وطن د نوبهار د تمدن د وخت د بیرغ رنګ په لرغونی وختونو کی زرغون ؤ.

دغه راز زرغون رنګ د سمسورتیا، نیکمرغی او آبادی نښه نښانه هم ګڼله کیږی او له پخوانیو وختونو څخه له تیرو څخه تر اوسه پوری په اسلامی نړی کی د پام وړ رنګونه دی او د افغانستان زیارایستونکی مسلمان خلک ورته ارزښت ورکوی.
د هیواد له څپلواکی او له هیواد څخه د انګلیس د امپریالیزم له شړلو وروسته په یوه بیرغ کی د رنګونو ترکیب زموږ د ملی تاریخ له لوړو او ژورو څخه پ ډکو دورانونو کی زموږ د هیواد د بیرغونو د دریو واړو رنګونو ترکیب د غازی امان الله په وخت کی د لویی جرګی له خوا په افغانستان کی د بیرغ د تاریخ له څیرلو وروسته تثبیت شو، او د افغانستان خلکو د سر په سترګو ومانه او تائید یی کړ، لنډه دا چی زموږ په هیواد کی د بیرغ تور سور او زرغون دری رنګونه تاریخی اوږدی ریښی او پس منظر لری او هر یو یی زموږ د خلکو د قهرمانانه او حماسه زیږونکو جګړو ښکارندوی دی.
پدی ډول زموږ دری رنګه ملی- دولتی بیرغ په آسانی سره لاس ته ندی راغلی بلکی زموږ د هیواد د څو زره کلن تاریخ په ترڅ کی یی دغه بڼه او هویت غوره کړیدی چی زموږ د خلکو د تاریخی دودونو او ویاړنو، د پرګنیزو او ملی مبارزو او د اسلامی معتقداتو څرګندوی او زموږ د ټولنی د بشپړتیا د ټاکلو پړاوونو د ضرورت ښکارندوی دی. د امیرانو، پاچایانو او سلاطینو ذوق او ذهنی تمایل پکی هیڅکله ټاکونکی رول نه درلود.
په لرغونی زمانه کی نښانونو زیاتره د ګود بڼو او زمریانو څیری درلودی، تر څو چی په دیارلسمه هجری پیړی کی دولتی نښان په تور بیرغ باندی د محراب او منبر بڼه غوره کړه.
د هیواد له خپلواکی وروسته په تور، سره او زرغون دری رنګه بیرغ باندی همغه د غره او لمر نښان وکیندل شو چی نن د کابل په پښتونستان میدان کی رپیږی.
محراب او منبر او د غنمو وږی د افغانستان په دری رنګه بیرغ باندی د نښان په توګه یو ځل بیا د لویی جرګی له خوا ومنل شو.
زموږ د هیواد د لرغونو بیرغونو او نښانونو اسطوری، حماسی او تاریخی پریمانه غنا او تنوع لری.
د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دولتی نښان په زرغون متن باندی په ګراری کی د محراب او منبر، غوړیدلی کتاب د لمر د راختو د وړانګی تصویر دی چی د غنمو په وږو ښکلی او توره، او سره او زرغونه پټی تری چاپیره ده او د پنځو څنډو سور ستوری په پاسنی برخه کی د غنمو د وږو په دواړو سرونو کی پروت دی.
د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دولتی بیرغ دری رنګونه لری چی د تورو، سرو او زرغونو پټیو په بڼه په ترتیب سره له لوړ څخه تر ټیټه پوری افقاً په یو اندازه دی.
د هغه له لرګی څخه د بیرغ د لوړی برخی په ربع کی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دولتی نښان لګیدلی دی د بیرغ د سور نسبت د هغه د اوږدوالی یو په دوه دی.
د آزاد او خپلواک افغانستان وطنوالو!
دغه اوسنی دری رنګه بیرغ او نښان له هره پلوه زموږ د خلکو له ارادی څخه را ولاړ شویدی. زموږ له تاریخ او له ښو ملی او دینی دودونو زموږ له مترقی او انقلابی ارمانونو زموږ د ټولنی د بشپړتیا له اوسنیو شرایطو او پړاو سره بیخی سمون خوری.
له دغی جملی څخه د بیرغ په تور رنګ کی په کلی توګه د ابومسلم خراسانی او د هغه د جنګیالو اندیوالانو تاریخی مبارزی منعکسی دی.

د بیرغ په سره رنګ کې زموږ د خلکو او د آزادی او خپلواکی او د آزادی ښنونکی انقلاب د لاری د شهیدانو د میرانی مبارزی پرتی دی چی قهرمانانه وجنګیدل، سرونه یی ورکړل خو د مبارزی بیرغ یی له لاسه ور نه کړ.
د بیرغ زرغون رنګ د افغانستان د اسلامی ټولنی انعکاس د هیواد د سمسورتیا، نیک بختی، آبادی او غوړیدو انعکاس دی.
په نښان کې: محراب زموږ په اسلامی ټولنه کې د زیارایستونکو مسلمانانو د عبادت مقدس ځای او منبر په سمه لاره د حق او حقیقت په لاره، د برابری او ورورولی په لاره، د برابرتیا او عدالت په لاره، د سولی او د سفاکو جبارانو د ظلم او ستم له جغ څخه د هسکیرلو یعنی د زیارایستونکو د آزادی په لاره باندی د مومنانو د لارښودنی ځای دی.
د خراسان لمر، د افغانستان لرغونی نوم دی.
خراسان یعنی هغه هیواد چی ځلانده لمر پکی راخیژی بیاهم پدی معنی چی زموږ د خلکو آزادی ښنونکی لمر زموږ په ګران وطن افغانستان کی د تل له پاره ځلیږی.
غوړیدلی کتاب د روښانولو او روشنفکرانو سمبول، زموږ د زیارایستونکو خلکو د علمی او فرهنګی انقلاب سمبول دی.
د افغان ستوری د هغه له تاریخی او ملی سوابقو سره زموږ د خلکو د اقبال او بری ښه نښانه ده. ګراری یا د ماشین څرخ د کار او دوران جوړونکی کارګری طبقی او زموږ د هیواد د صنعتی کیدو ښه نښانه ده.
د غنمو وږی د زراعتی هیواد او زموږ د زیارایستونکو بزګرو د ستر رول او زموږ په ګران وطن افغانستان کی د کرنی او برکت د ښی ودی نمایندګی کوی.
په دی ډول د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت ملی- دولتی بیرغ او نښان له هیڅ ډول تنګ نظری او ذهنیګری او د ټولنی په عینی واقعیتونو باندی د خپلی ارادی د تحمیل له پاره له بی ځایه هلوځلو پرته د مسلمانو زیارایستونکو او نورو وطنوالو د ارادی له مخی او د افغانستان د خلکو د دموکراتیک ګوند د مرکزی کمیتی د پلینوم په پیشنهاد د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا له خوا تصویب شو چی ما د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا او حکومت په نمایندګی د هغه مشخصات په لنډه توګه د افغانستان د سوله غوښتونکو او شرافتمندو خلکو په وړاندی اعلام کړل.
زموږ ملی دولتی بیرغ او نښان چی په جدی توګه زموږ د ټولنی د عینی واقعیتونو په نظر کی نیولو سره جوړ شویدی د افغانستان د خلکو د پراخو حقوقو او آزادیو د ژوندی کولو په لاره کی مهم ګام بلل کیږی او د پلارنی وطن په یوه ملی متحده جبهه کی د ټولو دموکراتیکو او وطنپالو طاقتونو د جلب او تشکل او ددغی جبهی د تکامل لپاره زموږ د ټولنی د اوسنی پړاو جدی ضرورت دی لاره اواریږی.
په داډه او پاخه ایمان سره اعلامیږی چی ډیر ژر د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت ملی- دولتی بیرغ او نښان د افغانستان د ټولو خلکو، ټولو قبایلو، قومونو او ملیتونو د یووالی او پیوستون په سمبول له سیاسی، اقتصادی ټولنیز او فرهنګی تمایز او توپیر پرته بدلیږی.
د افغانستان مبارز خلک به تر خپل دری رنګه بیرغ لاندی د ثور د پرتمین انقلاب او د خپلو انقلابی ښیګنو د دفاع په خاطر خپل یووالی او پیوستون له پخوا څخه زیات ټینګ کړی.

دادی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت دری رنګه بیرغ پورته کوو، او یو ځل بیا د خپلو خلکو او وطن په وړاندی د ملت او هیواد له تاریخ د اسلام له مقدس دین له دود او فرهنګ سره خپله مینه او انقلابی صداقت څرګندوو.
پدی شیبو کی چی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت ملی- دولتی بیرغ پورته کیږی یوځل بیا اعلاموو چی د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند او د افغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت د ثور د پرتمین انقلاب د دفاع په لاره کی د افغانستان د خلکو د ارمانونو، هدفونو، بریالیتوبونو او انقلابی ښیګڼو د ساتلو په لاره کی د هیواد د بیا جوړولو او له هر ډول ستم او استثمار څخه د یوی خلاصی نوی ټولنی د جوړولو په لاره کی د یوه مصون او دموکراتیک ژوند د شرایطو د پیدا کولو او د سوله ییز کار او انقلابی مبارزی له پاره د پوره امنیت د تامین په لاره کی له ویری پرته مصمم په غوڅه او زړورتیا سره پرمخ ځی.
او د خپل وطن د زیارایستونکو له دغه آزادی ښونکی ستر او مقدس جهاد څخه به یو ګام او یوه لویشت په شا لاړ نشو.
**موږ به نه یوازی هیڅکله د امپریالیستی قوتونو او د سیمی د ارتجاع، پراختیا غوښتونکو شوونیستانو، کورنی ارتجاع او د انقلاب ضد خپل ځان پلورونکو مزدورو عناصرو د شانتاژونو، توطئو، لمسونو، لاس وهنو او خیانتکاره تیریو او ورانکاریو ته تسلیم نشو بلکی ددی په عکس د خپل هیواد د آزادو او زیارایستونکو خلکو د واحدی او یو موټی ارادی پر اساس به دغه ټول تیټ همته او سړی وژونکی، د وطن دغه دښمنان او امپریالیست پالونکی اجیران له جرړو څخه تاریخ کندی ته وسپارو.**
ملګرو، دوستانو، زړورو او پتمنو وطنوالو! د افغانستان مسلمانو زیارایستونکو خلکو!
ټول د ملی خپلواکی او ملی حاکمیت او د ځمکی د تمامیت د دفاع له پاره د نوی ټولنی د جوړولو په لاره کی، د سولی او آزادی په لاره کی، د پرمختګ او ټولنیز عدالت په لاره کی، د ورورۍ او برابری په لاره کی زموږ د زیارایستونکو خلکو د نیکمرغی په لاره کی، د قهرمان او انقلابی افغانستان په لاره کی د پلرنی وطن په یوه پراخه ملی جبهه کی مخ په وړاندی.
اوچت دی وی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت ملی- دولتی بیرغ.
ژوندی دی وی د ثور بریالی انقلاب.
د آزاد او خپلواک افغانستان د سرلوړی او له غرور څخه ډک افغانستان بیرغ د لوی خدای په توفیق او اتکاء او زموږ د خلکو په اراده اوچتوم.

## * تایپ کامپیوتری از : ع . ق . فضلی

** تکیه ها از «اصالت» است.

*** هر نوع استفاده و نقل قول از «بیانیه ی ببرک کارمل به مناسبت برافراشتن بیرق ملی و دولتی» صرف با ذکر منبع و نام سایت «اصالت» مجاز است !

www.esalat.org